بُست پوهنتون

علمي معاونیت

دکیفیت د تضمین او لوړاوي چارو آمریت

# د کیفیت دتضمین او لوړاوي چارو آمریت/کمیټي پروفایل

## د پوهنتون په کچه د کیفیت دتضمین او لوړاوي چارو آمریت

د لوړو زده کړوپه دولتي او خصوصي نهادونو کي د کیفیت د لوړوني او ښه والي په برخو کي د نوموړي آمریت تشکیل ډېر اړین دی چی د تشکیلاتي سلسله مراتبو له نظره د علمي مرستیال تر اغیز لاندي دی او د تحصیلي نهاد علمي مرستیال په دوامداره ډول د هغه د کړونو څخه راپور اخیستنه کوي. دغه اداره د تحصیلي نهاد د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې سره په همږغئ کار کوي او د تحصیلي نهاد په فعالو پوهنځیو او دیپارتمنتونو کي د کمیټې د غونډو پریکړې او مصوبې ابلاغوي او هم په دوامداره توګه د فرعي کمیټو د فعالیتونوڅارنه او راپور اخیستنه کوي او علمی مرستیال ته ګزارش وراندي کوي. د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني آمریت د کار د تراکم او اړتیا له مخې خپل تشکیلات د اړوند ادارو سره په همږغي پراخولای سي.

## د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني آمریت مسؤلیتونه

1. بین المللي معیارونو ته د رسیدلو لپاره د تحصیلي نهاد د کیفیت د ښه والي تشویق، ترغیب او چټکتیا،
2. د تحصیلي نهاد د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني کمیټې سره په همږغی د اعتبار ورکوني، زده کړه ایزو برنامو په جوړیدو او نورو فعالیتونو کي مرسته،
3. د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني د ارزښت په باره کي تحصیلي نهاد او خلکو ته معلومات وراندي کول،
4. د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست سره د کیفیت د تضمین د غړو په زده کړي او تاکلو کي مرسته،
5. د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني د جریان په برخه کي تحصیلي نهاد ته مشوره ورکول،
6. د پوهنځیو په کچه د کیفیت د تضمین د فرعي کمیتو په جوړولو کي د تحصیلي نهاد سره مرسته،
7. د اعتبار ورکوني د جریان اړوند د ځان ارزوني، ساحوي لیدني او نورو برنامو لپاره آماده ګي،
8. د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني اړوند اسنادو ( مقررو، لایحو او کړنلارو ) د تطبیق څخه راپور اخیستنه،
9. د لوړو زده کړو د تحصیلي نهاد د اعتبار ورکوني د جریان د معلوماتو ثبت،
10. د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکونی د کورني او بهرني ارګانونو سره د اړیکو تامین،
11. په ملي او نړیواله کچه د کیفیت د تضمین  په برخه کي د اخیرنیو لاسته راوړونو څخه ګټه اخیستنه،
12. ملي او نړیوال ستندرد ته د لوړو زده کړو د تحصیلي نهاد د کیفیت کچه لوړول،
13. د معتبرو کورنیو او بهرنیو پوهنتونونود اکاډمیکو معیارونو سره د تحصیلي نهاد په معیاري کولو کي مرسته،
14. د تحصیلي نهاد په کچه د کیفیت د لوړاوي کمیټې غونډو ته د اجنډاوو د موادو برابرول،
15. د تحصیلي نهاد د کیفیت د لوړوني کمیټې سره د ځان ارزوني د ګزارش په جوړولو او د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني ریاست ته د هغه په لیږلو کي مرسته.
16. د علمي برنامو د بیا کتني ( د برنامو د دوره یی بیا کتني او کلني څار) د پالیسی د تطبیق په برخه کي همکاری اود کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني ریاست ته یی د عمومي ګزارش لیږل

## د کیفیت د تضمین او لوړاوي چارو آمریت تاریخچه

د هیواد د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی پر بنسټ چي د کیفیت لوړاوی د لوړو زده کړو د هر نهاد لپاره د پرمختګ اړین شرط دی، باید ډېره پاملرنه ورته وسي او د لوړو زده کړو هر بنسټ مکلف دی چي په دې برخه کي کوټلي ګامونه پورته کړي، د ویار ځای دی چي یادي موخې ته د رسیدو په پار بُست پوهنتون په دې برخه کي په ۱۳۹۵ هـ ل کال کي کړنې تر سره او اړین ګامونه یی اوچت کړل چي د هغو له جملې یو یې د پوهنتون په تشکیل کي د کیفیت د تضمین او لوړاوي چارو د سرته رسولو په منظور د کیفیت دتضمین او لوړاوي مدیریت تر عنوان لاندي یو رسمي بست ایجادول وه چي تر ایجاد وروسته  ورته یو تن مسؤل په دنده وګمارل سو. د کیفیت د تضمین او لوړاوي برخي د چارو لمني تر پراختیا وروسته په ۱۳۹۸ هـ ل کال کي د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمریت ایجاد سو. اوسمهال د  یاد آمریت د آمر په شمول دوه تنه کارکوونکي لري.

د یادوني وړده چي د کیفیت د تضمین او لوړاوي آمریت د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټې اجرایوي چارې  هم  پر مخ وري او دکمیټې پریکړي دپوهنتون په کچه تعقیب او تطبیقوي.

## د پوهنتون په کچه د کیفیت دتضمین او لوړاوي کمیټه

- د کیفیت د لوړوني کمیټې ټولیزه موخه په اړوند پوهنتون کي د کیفیت د فرهنګ لوړتیا ده او ځانګړي موخي يی عبارت دی له:
- د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني د ملي او نړیوالو لارښودونو سره په مطابقت د کیفیت د لوړوني فرهنګ بنسټیزه کول؛
- ددې ډاد ترلاسه کول چې د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست د لارښوونو او ملي اړتیاوو سره په مطابقت د تحصیلي نهادونو د کیفیت د لوړوني کړنلاري طرحه سویدي؛
- د کیفیت د دباندنی ارزوني او اعتبار ورکوني لپاره د پوهنتون آماده کول؛

## د کمیټې د رئیس (د نهاد د علمي مرستیال ) دندي

د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني کمیټې رئیس د تقنني اسنادو په چوکاټ کي د هیواد د اداري اصولو پر بنسټ لاندي دندي پر غاړه لري:

1. د کمیټې د ټولو غونډو ریاست،
2. د کمیټې د دفترداری د کړونو څار،
3. د کیفیت د تضمین او اعتبارورکوني په برنامو کي ګډون،
4. د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني د برنامو تشویق او ملاتړ،
5. د تحصیلي نهاد په کچه د کیفیت د لوړوني د فرهنګ دودول،
6. د کمیټې د پریکړو د تطبیق څخه څار،
7. د کیفیت د تضمین د کمیټې استازیتوب،
8. د نورو ارګانونو او بیاکتونکو سره مرسته،
9. د استادانو او محصلینو د خبرتیا لپاره د خبرپاڼو او بروشورونو نشرول،
10. نوري هغه دندي چي د کیفیت د ښه والي اړوند د تقنني اسنادو په چوکات کي د صلاحیت لرونکو مقامونو لخوا ورسپارل کیږي،

## د تحصیلي نهاد د کیفیت د تضمین کمیټې دندي

**الف ) د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکوني په برخه کي**

1. د تحصیلي نهاد د کیفیت د ښه والي په چارو کي هڅه،
2. د تحصیلي نهاد، فارغ ورکړونکو پوهنځیو او دیپارتمنتونو د ځان ارزوني د جریان څخه نظارت،
3. د تحصیلي نهاد د ځان ارزوني د راپور برابرول،
4. د فارغ ورکړونکو پوهنځیو او دیپارتمنتونو د ځان ارزوني د راپور څیړنه ( بررسي)،
5. د بیاکتني په وخت کي د بیاکتونکو د ټیم سره مرسته،

6. د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتيژيک پلان، د اړوند موسسې د ستراتيژيک پلان او د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکوني او د ځان ارزوني د معيارونو د لايحې په ګډون د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکوني د مهمو سندونو سره بلديت،
7. د پوهنځيو د کيفيت د لوړوالي او ښه والي او نورو عمومي خدماتو لکه لابراتوارونو، د کمپيوټر مرکزونو، کتابتونونو، محصلينو ته د چوپړونو وړاندي کولو، څېړنو او د موسسې په نورو برخو کي د تحصيلي نهاد رئيس او علمي مرستيال ته د مشورې ورکول،
8. د تحصيلي نهاد د علمي او اداري فعاليتونو څخه د بيا کتنو او د هرې پوهنځۍ د ځان ارزوني پر بنسټ د کميټې لپاره د وړ او مناسبو اسنادو برابرول،
9. د کميټې د غونډو ( د پوهنځيو، علمي کادرونو، محصلينو، کارمندانو او د موسسې د نورو غړو سره د بحثونو) راز ساتل،
10. د لوړو زده کړو وزارت د کيفيت د لوړوني او اعتبار ورکوني رياست سره د کاري اړيکو ټينګول،
11. د کلني نظارت د راپور جوړول، د برنامو دوره يي کتنه او د هغه اړوند عملياتي پلان د تطبيق تعقيب،
12. د کيفيت د لوړوني او ښه والي اړوند ټولو هغو نورو دندو تر سره کول چي د واک لرونکو مقامونو لخوا ورکول کيږي،

## ب ) د کيفيت د لوړوني لپاره د تدابيرو د نيولو په برخه کي

1. د کيفيت د تضمين او اعتبار ورکوني د ټولو معيارونو لپاره د کمزورو ټکو، ننګونو او فرصتونو پر بنسټ د يو عملياتي پلان جوړول،
2. د عملياتي پلان د تطبيق لپاره د يو ميکانيزم جوړول او د هغه د تطبيق لپاره د خنډونو څخه د وتلو د لارې وړاندي کول،
3. د تحصيلي نهاد په ټوله برخو کي د عملياتي پلان د تطبيق څخه څار،
4. په ستندرد فارمټ کي د مسير موندلو ( Tracking Document) اسنادو برابرول،
5. د تحصيلي نهاد په کچه د مسير موندلو ( TD ) اسنادو د تطبيق څخه څارنه
6. د لوړو زده کړو وزارت د ستراتيژيک پلان او د تحصيلي نهاد د ستراتيژيک پلان د تطبيق څخه څار او د هغه ربعواره راپور جوړول،
7. د تحصيلي نهاد په کچه د کيفيت د تضمين د برنامو او پلانونو د تطبيق لپاره د محافلو جوړول،
8. د نورو برنامو تطبيق، کوم چي د وزارت د کيفيت د لوړوني رياست لخوا ورکول کيږي،
9. د نوو برنامو نوښت او تطبيق، کوم چي د کيفيت د لوړوني باعث کيږي،
10. د تحصيلي نهاد د بوديجې او نورو مرستو د لګښت څخه څار کوم چي د عملياتي پلان، ستراتيژيک پلان او نورو پلانونو د تطبيق لپاره ورکړل سوي وي،
11. د تحصيلي نهاد په کچه د درس ورکولو او درس زده کولو د پاليسيTeaching and Learning Improvement Policy )، د تدريس د ښه والي پلان او د ځانګړي عملياتي پلان د تطبيق څخه څار او بررسي،

## ج ) د ټولو اکاډميکو چارو د څار او بررسي په برخه کي

1. د لوړو زده کړو محترم وزارت د ( ۳۷۸۴/۴۹۳۳ ) نمبر د ۱۳۹۲/۸/۱۳ حکم پر اساس د ټولو اکاډميکو چارو نظارت او بررسي د تحصيلي نهاد د کيفيت د لوړوني او اعتبار ورکوني کميټې پر غاړه دی چی لاندي دندي لري:
2. د ټولو نشراتی چارو نظارت او بررسي او د هر سمستر په پای کی د رسمي راپور جوړول او د تحصيلي نهاد د علمي شورا تر تائيد وروسته د وزارت د کيفيت د لوړوني او اعتبار ورکوني رياست ته ليږل،
3. د تحصيلي نهاد په کچه د علمي څېړنو څخه نظارت او بررسي او د هر سمستر په پای کی د رسمي راپور جوړول او د تحصيلي نهاد د علمي شورا تر تائيد وروسته د وزارت د کيفيت د لوړوني او اعتبار ورکوني رياست ته ليږل،
4. د تدريسي چارو نظارت او بررسي په ځانګړې ډول د تدريس د کيفيت د ارزوني د کړنلارې تطبيق او راپور د تحصيلي نهاد د علمي شورا تر تائيد وروسته د وزارت د کيفيت د لوړوني او اعتبار ورکوني رياست ته ليږل،

5. د فاینل ازموینو او د ازموینو د واحدي کرېډټ‌لاري د تطبیق څخه نظارت او بررسي او د هر سمستر په پای کی د رسمي راپور جوړول او د تحصیلي نهاد د علمي شورا تر تائید وروسته د وزارت د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست ته لیږل،
6. د تجهیزاتو، اړینو توکو او د لابراتوارونو د عملي کار د سامان آلاتو څخه نظارت او بررسي او راپور د تحصیلي نهاد د علمي شورا تر تائید وروسته د وزارت د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست ته لیږل،
7. د سمستر په جریان کې د دیپارتمنتونو د درسي میتودونو څخه نظارت او بررسي او د سمستر په ختم کې راپور د تحصیلي نهاد د علمي شورا تر تائید وروسته د وزارت د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست ته لیږل،
8. د درسي موادو، لکچرنوټونو او نورو موادو د اصلاح او ستندرد لپاره سمستروراه نظارت او بررسي او راپور د تحصیلي نهاد د علمي شورا تر تائید وروسته د وزارت د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست ته لیږل،
9. د سمستر په جریان کې د دیپارتمنتونو د کریکولم او درسی مفرداتو د تطبیق څخه دقیق نظارت او بررسي او د سمستر په ختم کې راپور د تحصیلي نهاد د علمي شورا تر تائید وروسته د وزارت د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست ته لیږل،
10. د کال په اوږدو کې د تقرر او علمي ترفیع ګانو د جریان د روڼتیا څخه نظارت او بررسي او د تحصیلي نهاد علمي شورا ته د راپور جوړول،
11. د تحصیلي نهاد نظم او دسپلین څخه نظارت او د وزارت د کیفیت د لوړوني او اعتبار ورکوني ریاست ته د راپور لیږل،
12. د تدریس په جریان کې د نوي تکنالوژۍ د کاراخیستني او د سمستر د مهالویش د تطبیق د څرنګوالي څخه نظارت،
13. د استادانو او محصلینو د حاضری د پابندي څخه څار او د تحصیلي نهاد و علمي شورا ته د راپور برابرول،
14. د پوهنځیو او دیپارتمنتونو د اکاډمیک فعالیت څخه نظارت او بررسي،
15. د اکادمیکي ساحې د لایحو، مقررو، کرېډټ‌لارو او تقنني اسنادو د تطبیق څخه نظارت او بررسي،
16. د پوهنتونونو د مالي استقلالیت د مقررې د مادو سره سم د علمي، څیړنیزو او نشراتي خدماتو د وړاندي کولو نظارت او بررسي،

### د پوهنتون دکیفیت دتضمین او لوړاوي کمیټي تاریخچه

د هیواد د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی پر بنسټ چې د کیفیت لوړاوی د لوړو زده کړو د هر نهاد لپاره د پرمختګ اړین شرط دی، باید ډېره پاملرنه ورته وسي او د لوړو زده کړو هر بنسټ مکلف دی چې په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي، د ویاړ ځای دی چې دې موخې ته د رسیدو په پار بُست پوهنتون په دې برخه کې پروخت کړنې تر سره او اړین ګامونه یې اوچت کړي چې د هغوله جملې یوېې د کیفیت د تضمین او لوړاوي اصلي کمیټه ده چې په لومړی ځل د لوړو زده کړو محترم وزارت د کیفیت دتضمین او لوړاوي د لایحې د اتلسمې مادې پر بنسټ پوهنتون دعلمي شورا د [1393/2/13] نیټې په [24] نمبر غونډې د پرېکړې سره سم ایجاد سول.

د پوهنتون د کیفیت د تضمین او لوړاوي کمیټه د اصلي کمیټې په توګه چې د پوهنتون علمي مرستیال د کمیټې د رئیس، د کیفیت د تضیمن او لوړاوي آمر د کمیټې مرستیال، د کیفیت د تضمین مدیر د کمیټې د منشي، د پوهنتون دوه مرستیالان او پوهنځیو رئیسان د کمیټې د غړو په توګه چې تول نهه تنه کیږي له مخکي څخه د ترتیب سوي مهالویش سره سم غونډې کوي د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسیو، لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو په رڼا کي د پوهنتون د کیفیت د لوړاوي په برخه کي فعالت ترسره کوي. کمیټه خپل لرلید او مأموریت لري چې په لاندي توګه بیانیږي.